**بسم الله الرحمن الرحیم**

**خپل دښمن وپېژنئ!**

**(ژباړه)**

**خبر:**

د انقلابیونو لخوا د سورېې د دکتاتور نظام تر سقوط وروسته، نړیوال پلاوي یو په بل پسې سورېې ته را روان دي.

**تبصره:**

د شـــام د انقلاب دیارلس کاله وشـــول؛ په دې موده کې انقلابیونو د اســـد د رژیم د راپرځولو هڅې کولې او د اســـلام او اســـلام د حاکمیت د تاسـیسـولو شـعارونه یې ورکول. هغه وخت غربي او شـرقي هیوادونو د اسـد د رژیم ملاتړ کاوه؛ د ده د ملاتړ لپاره له ایران، عراق، روسـېې او امریکا څخه پوځونه سورېې ته واستول شول. په دغو دیارلسو کلونو کې په سوریه کې تر یو ملیون زیات مسلمانان شهیدان شول؛ ښارونه یې ویجاړ شول، د سورېې تر لسو ملیونو ډیر خلک د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شول او پر انقلابیونو د ترهګرو ټاپې ووهل شوې.

د اسـد د نظام تر سـقوط څو ورځې وړاندې هغه په سـعودي کې د عرب هیوادونو د مشـرانو غونډې ته بلل شـوی و او هلته یې هرکلی وشـو. امریکا او د نړۍ نورو قدرتونو له هغه سره د اړیکو پراخول غوښتل خو د الله سبحانه و تعالی اراده د دوی د غوښتنې خلاف وه؛ د انقلابیونو جبهې پراخې شوې او د اسد رژیم ناڅاپه راوپرځېد. له دې سره د نړۍ ستر قدرتونه او په سیمه کې د هغوی پیروان ووېرېدل؛ پرلپسې غونډې یې جوړې کړې او بیا یې خپل پلاوي ســوریې ته واســتول چې انقلابیون د اســلام له حاکمولو راوګرځوي؛ ورته ووایي چې لږکیو ته پام وکړي، د ښځو حقونه په پام کې ونیسي او له یهودي رژیم سره له جګړې ډډه وکړي.

پوښتنه دا ده چې کله په سوریه کې یو ملیون مسلمانان ووژل شول، ملیونونه نور سخت شکنجه او له خپلو مېنو بېځایه شول؛ هغه وخت دا کسـان (نړیوال پلاوي) چېرته وو!؟ د ماشـومانو نازک بدنونه چې ټوټه ټوټه کېدل او پر ښـځو تېری کېده؛ دوی چېرته وو!؟ ایا په ملګرو ملتونو کې د بشار الاسد استازی نه و!؟ ایا وحشي بشار د عرب اتحادیې او د اسلامي همکاریو سازمان غړی نه و!؟ ایا د نړۍ هیوادونو د اسد له رژیم ســـره په دغو جنایتونو کې مرســـته ونه کړه!؟ اوس چې هغه وحشـــي او ظالم رژیم راوپرځېد، نړیوال پلاوي راځي. هغه جنایتونه غندي او د شکنجو د کیسو په لیدو او اورېدو حیرانېږي!

اې مسـلمانانو! بشـار الاسـد او د هغه جنایتکار رژیم سـتاسـو د وژلو، شـکنجې او بېځایه کولو لپاره د سـترو قدرتونو یوه وسـیله وه؛ دا نړیوال پلاوي ستاسـو اصلي دښـمنان دي؛ نو اوس چې ستاسـو صفت کوي او د راپرځېدلي وحشي نظام بد وایي، په خبرو یې مه تېروځئ! له دوی څخه د خیر هیڅ تمه مه کوئ او هغه څه وکړئ چې الله ســبحانه و تعالی یې امر درته کړی. د الله ســبحانه و تعالی له مخلصــو بندګانو ســره یو ځای شئ؛ دښـمن ته نرمي مه ښیئ او باور مه پرې کوئ؛ ځکه دا کار د الله سبحانه و تعالی د غضب او خشـم سـبب کېږي او سـتاسـو قربانی په اوبو لاهو کوي! موږ د یوې سترې بریا په درشل کې یو؛ نو د اسلام د حاکمیت لپاره د الله سبحانه و تعالی د امر په پلي کولو کې ثابت قدم او متعهد اوسئ او په خپلو عملونو کې صداقت او اخلاص وښیئ.

**لیکوال: شیخ ډاکټر محمد ابراهیم**

**د حزب التحریر – ولایه لبنان د مطبوعاتي دفتر ریس**